آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۲/۰۶

# لارورکي لارويان

## اوه ديرشمه برخه

### ټوله کيسه په يوه قصيده کې:

د ماسکو د غملړلي ژوند په موده کې مې د ستونز منو جسمي کارونو تر، څنګ فرهنګي فعاليت هم کاوه. د فرهنګي کارونو په لړ کې يو څه موده د افغانستان د فرهنګ ټولني منشي توب را له غاړې و. دا وخت ځينو ښاغلو فرهنګيانو د «ليمه» مجله چلوله او مسؤل مدير يې ښه شاعر عارف خزان و. يوه ورځ زما کوټې ته راننوت، وروسته له لنډکی ستړي مه شي نه يې څو پاڼي پر ميزرا ته کېښودي او وې ويل چې دا به ولولې او ووت.
ما چې پاڼي پرانستي که کتل مې د لومړۍ پاڼي پر تندي ليکل شوي وو:
«د وينو واټ »
دا د سليمان لايق هغه قصيده وه چې ده د خپل شعر نغرۍ بيرته ور باندې تود کړی و او د ناروغ غني خان غني په آدرس يې په ولي باغ کې ليکې وه او هماغلته يې د مريضی په کټ کې، نه جوړيدونکي غني ته په خپل غږ کې اورولې وه.
د قصيدې ځينو بيتونو نه خزان ګل د سانسور کړۍ را تاو کړي وه؛ څو کوردي يې آباد وي، زما يې منله او د سانسور تيغ يې د قصيدې د ځينو بيتونو له ستوني څخه لرې کړ. قصيده په ليمه مجله کې چاپ شوه.
د قصيدې له چاپ سره ځينو فرهنګيانو ويل چې اوسني شاعران د آزاد شعر په نامه هسې توري څنګ په څنګ سره ږدي او د شعر نوم ورکوي، دوی اصلاً د مقفی شعر د ليکلو استعداد نه لري. دې خبرې زما په زړه کې خاله وکړه او تل به يې زورولمه او همدې خبرې او زورولو دې ته اړ کړم چې د يوې قصيدې ليکلو ته ملا وتړم.
ما هم دا کار وکړ او موضوع مې ور ته د همدې سفرنامې داستان وټاکه او همدا ليکلی داستان مې د يوې قصيدې په چوکاټ کې انځور کړ. زما دا قصيده د لايق له قصيدې سره هيڅکله سيالي نه شي کولای، خپلی نيمګرتياوې به لري، خو زه يې په مقفی شعر او هغه هم د قصيدې په قالب کې خپله يوه تجربه ګنم او د دې ليکنې د ښه اختتام په ډول يې دلته راوړم:

## لارورکي لارويان

چـــې دوزخ کـړي جــوړ انسـان تــه بـــل انسان
غــږ کـــا زه يـم، بـل څـوک نـه دی ايګـو خان

افغـانـان کـــومــــه بـيرۍ کــې سپاره شـــوي
سـم چـې وخـوځـي، نـازل شــي بـــيا طــوفان

نـه يې کـور، شته نه يې کـلی، وطــن وران دی
کــچــالو غـــونـــدي خـــواره پـــه ټــول جــهان

نـــه يـــي کـــور شتـه نـه يي لوری نه آدرس شته
ســــــرګــــــردان د ورکــــــو لارو لارويــــــان

د غــويي درو چــي راغـــي بل ســور اور شـــو
ژر پـــر واک شول څلور بـول څورب غـويان

چي د ثور مياشت نږدې شي زړه مـــې ريـږدي
چــي نـــازل نــه شــي غـضــب بـــل د يـــزدان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لوغمیزې، دوې په ثور، یو په جدي
ښه یې نه وو، په بدی بدې بدان

د غویي اومه یاده که په بد کړې
سره سوځي دا تازه، تازه کسان

که د جدي د شپږمې یاد په بد کړې
سپینې پټې درته نیغ شي کارملیان

که د ثور په اتمه ولړیږې
شنه او سره اوړي له قهره ملایان

د شاګرد او د استاد جګړه شوه پیل
سره ولویدل په خپلوکې ګوندیان

ځینو ویلې اوروي ډُرا و ګوهر دی
خو په خوله یې ورته کیښول بالښتان

تور مدیر ناست و په ټانک کې د روسانو
چې را و رسید حیران شول کابلیان

ویلې خوش یمه چې راوستم روسانو
هسکه غاړه دې اوس ګرځي زما یاران

وفا تیږه یې نیولې وه ټټر ته
خو جفا یې سوځول ټول مسکینان

چا ویل مینډې به شې بورې ډیرې، ډیرې
ځنې غورځوي هر خوا انقلابیان

استاد تږي ښه ویلي وو هر ګوره
تورو غرونه شول را کوز ځناوران

تور موټر ورته ولاړ وو سمدلاسه
سلامي شا و خوا ګرده سپاهیان

چې د خپلې ډلې شمیر یې زیاتولو
بل ځوک نه وو، نو یې را وستل چرسیان

تور مدیر به چې سهار له خوبه پاڅید
ښه په شد او مد سینګار به یې کړ ځان

بیا یې وې چې هو، دا زه ثاني لینین یم
د هغه خبرې ورد زما د زبان

کشتمند نه غوښته فانتا له لاندې لارې
خو پرې وې ځکله په جبر او په ګریان

د ده مخ د کوناټي غوندې ښوی ښک دی
په تندي کې یې لیدای شي سرې ځان

محمود جان به چې د زنې خال تازه کړ
وې ځوک نه شته بس یو زه یم په میدان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې د ثور شوه اتمه بل سور اور شو
بې ګناه با ګناه دل شول انسانان

«د کابل میوې خوراک وې د طوطیانو»
پرې را توی شول ړیره ور له پاکستان

ښې ببرې ړیرې هر خوا ډلې، ډلې
تر هر تار لاندې یې ناست دي شیطانان

د ګلونو کرونده کې یې اور بل کړ
پروا ګیر نه و د ګل او ګلستان

چې په تراټ یې تیښته وکړه له دې اوره
نر هغه دی چې په تیښته خلاص کړي ځان

غلامي غواړي له خلکو دوی په زوره
خوشحالیږي چې لا ډیر شي غلامان

اور یې بل کړ ورته کور کې ښه وګوره
بیګناه هره خوا تښتي مظلومان

قتلوي بیګناه خلک نه پوهیږي
مرګ به راوړي اجل دوی ته ارمغان

ښکته مځکې ته یې ډک زړونه چې وړي
فوارې به کړي یو ورځې تر آسمان

د ټوپک نشه دې ایسته کړه له سره
ړیره وره راشه واوره دا بیان

غرغړې به کړم چې رنګ شي دیوالونه
ستا له ظلمه زړو اخیستي دي ټپان

ړیره ور، ورغومي تمه بل څه نه وه
کابل وران غوښته همدغه ایګوخان

کا ګې بې او آي اس آی، سي آي اې پرېږده
په موساد و ځان پلورلی قهرمان؟

له بهر نه یې بار واخیست په څو ځلې
ترې نه پریوتل زرګونې حرامیان

عبدالله خو په مسکو کې دا بیان کړه
جګړه ښه خوشحالوي زموږ یاران

بلبلان ژاړي په بڼ کې او نلیږي
حکومت کوي پر خلکو ښاماران

په ټټر کې یې زړه نه شته، توره تیږه
ده پرته چې رحم نه لري دیوان

دا خبره د سعدي نظم کې ګوره
چې کلونه پخوا ده کړله بیان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خر که پور کا د غویي ښکر کومه ورځ
کولمې پرې به نه بږدي نس کې د انسان

دا مظلومه پیشوکه وزر پیدا کا
پرې به نه بږدي په هوا کې ټول مرغان

سیاف ویلې مرغانچې هم ورانومه
پاتې نه شي به ودان دا مکرویان

بیا یې بد وهلې متې تر ځنګلو
چې تر تیغ تیر کړي هزار،هزاره ګان

نو یې ویست هزارې ته له پایځې نه
هزاره هم زړګی سوړ کړ پر«اوغان»

یو وخت تږي وو، و وینې د یو بل ته
نو یې قتل کړل سلګونه هزاران

خو اوس وایي خبر نه یو موږ له جنګه
ښا یي کړي وي جګړه کوم قومندان

اوس دي خره د یوه بار، په یو آخور دي
وایي دغسې دوستي وي جاویدان

د سیاف ږیره خو ځپر د غوبل ده
میدوي خپلو پښو لاندې آدمیان

سیاف ږیرې نه جوړ کړی لوی ځپر دی
ګرځوي یې په ککرو د انسا ن

دی سنت د پیغمبر نه وچ منکر دی
په ډالرو یې کړل ځینې وها بیا ن

زه ډاډه یم چې به فرضوته هم شا کړی
مګر ځان بولي مسلم تر مسلمان

د اوه دیرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ